# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د مارچ پنځمه | دویم کال| ۳٤٥مه گڼه


## خبره

۴ مخ



### جان ادامز

جان ادامز له هغو کسانو دی، چې د امریکایي پوځ د پیاوړتیا، ودې او قوي کېدو لپاره یې لومړني او اساسي گامونه اوچت کړي دي. د امریکا په پوځي تاریخ کې دغه ولسمشر ځانگړی ځای لري.

## د ولسي جرگې برحاله غړي:

# که ولسمشر پارلمان افتتاح نه کړي، پخپله لاس پکار کېږو



۳

که ټاکنې کېږي، موږ بیا هم غرق یو!

۲ مخ

گټونکي خوک دي، طالبان که امریکا؟!

۲ مخ

د صوبه سرحد ریفرنډم

۳ مخ

## په کونړ کې د ورښتونو له امله له زیانمنو شویو کورنیو سره مرستې شوې دي



په کونړ کې د بیړنیو پېښو پر مهال د مرستو تنظیموونکې ادراې مشر، غلام علي ثبات پرون ازادي راډیو ته ویلي: «د تېرې اونۍ سېلابونو او واورو د زیات ورښت له امله، بدبختانه خلکو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتي، چې تر اوسه موږ ۲۵۷ کورنۍ سروې کړې، یو تن شهید شوی، ۱۷ کورونه په بشپړ ډول ویجاړ شوي او پاتې یې قسماً ویجاړ شوي دي.»

ثبات ویلي، زیانمنو شویو کورنیو ته یې مرستې چمتو کړې او د وېش لړۍ یې هم پیل شوې ده.

له زیانمنو کورنیو سره په دغو مرستو کې د سرې میاشتې له خوا اووه تختې کمپلې، یو ترپال، یو د پخلنځي د توکو سېټ او یو بیگ او د یونسف له خوا د ماشومانو لپاره گرمې جامې شاملې دي.

## جان بولټن: تر سولې وروسته هم په افغانستان کې یوشمېر سرتېري پرېږدو

امریکایي چارواکو ویلي، له طالبانو سره د سولې په صورت کې به هم په افغانستان کې یوشمېر بهرني سرتېري حضور ولري.

د امریکا د ولسمشر د ملي امنیت مشاور له سي این این ټلویزیون سره په مرکه کې ویلي، دوی پر طالبانو باور نه لري او که چېرته له طالبانو سره سوله کېږي هم، باید یوشمېر سرتېري په افغانستان کې حضور ولري، څو دا هېواد یو ځل بیا د وسله والو ترهگرو پر امن ځاله بدل نه شي.

جان بولټن ویلي، له ترهگرۍ سره مبارزه د امریکا له لومړیتوبونو ده او سپینه ماڼۍ به هېڅکله په پټو سترگو پر طالبانو باور ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده، چې د طالبانو او امریکایي هیئت ترمنځ په قطر کې د سولې مذاکرات یوه حساس پړاو ته داخل شوي او ظاهراً دواړه خواوې په دغه بهیر کې پر یو بل د فشار راوړلو او امتیازاتو ترلاسه کولو هڅه کوي.

د طالبانو او امریکایي پلاوي په پنځم پړاو خبرو کې تر ډېره پر دې تمرکز کېږي، چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي او په بدل کې یې امریکا ته دا تضمین ورکړل شي، چې د دغه هېواد خاوره به یو ځل بیا د امریکا او نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي.

## د لویې مشورتي جرگې د کمېسیون اوسنی جوړښت د منلو نه دی



۵ مخ

## مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور افغانستان، به ازبکستان سفر کرده است



حمدالله محب مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور افغانستان روز دوشنبه به هدف صحبت روی موضوعات صلح، مبارزه با تروریزم و مواد مخدر و همکاری‌های مشترک به تاشکند پایتخت ازبکستان رفته و قرار است با مقام‌های آن کشور دیدار کند. عبدالکبیر واثق معاون سخنگوی دفتر شورای امنیت ملی افغانستان در این باره به رادیو آزادی گفته است: «مشاور امنیت ملی کشور در یک سفر دو روزه عازم تاشکند پایتخت ازبکستان شد تا با مقامات ارشد امنیتی ازبکستان روی گزارش همکاری‌های منطقوی، مبارزه مشترک علیه تروریزم، روند صلح، امنیت سرحدات و مبارزه علیه مواد مخدر تبادل نظر نمایند». آقای محب در حالی به ازبکستان سفر می‌کند که دو روز پیش عبدالعزیز کاملوف، وزیر خارجه و عصمت‌الله نمایندهٔ ویژه ازبکستان برای افغانستان در قطر با ملا عبدالغنی برادر معاون گروه طالبان دیدار کرده‌است.

در یک اعلامیهٔ خبری گروه طالبان آمده است که در این دیدار آقای کاملوف گفته‌است، کشورش آماده هر نوع همکاری در بخش صلح با افغانستان است.

دولت ازبکستان تا حال در بارهٔ این دیدار چیزی نگفته، اما پیش از این وزارت خارجه ازبکستان اعلام کرده است که عبدالعزیز کاملوف از ۳ تا ۵ مارچ در قطر خواهد بود.

مقام‌های ازبکستان و معاون گروه طالبان در حالی با هم دیدار کرده‌اند که نماینده‌گان این گروه پس از یک وقفهٔ دو روزه از سه روز بدینسو، سرگرم گفت‌وگوهای دور پنجم با زلمی خلیل‌زاد نمایندهٔ خاص وزارت خارجه امریکا برای صلح افغانستان در قطر اند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Admission Open

Starting: 2 March 2019

Speaking Skills

How to Speak English Well

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

www.shigal.edu.af

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

Shigal.edu@gmail.com

## درېځ

# که ټاکنې کېږي، موږ بیا هم غرق یو!

له اوږدو لانجو وروسته پرون د ټاکنیزو کمېسیونو غړو لوړه وکړه. د ټاکنو د نوي قانون پر اساس د دواړو کمېسیونو غړي او د دارالانشاء رییسان وټاکل شول. نوي کمېشنران به له یوه اړخه د تېرو ټاکنو برخلیک روښانولو، په کمېسیونو کې د اصلاحاتو راوستلو او له بله اړخه به د راتلونکو ولسمشریزو، ولایتي او ولسوالیو شوراګانو او د غزني د پارلماني ټاکنو لپاره تیاری نیسي.

د کمېسیون پر نوو غړو سر له اوسه باور نشته. که څه هم دا کسان نوي دي او لا یې کار نه دی پیل کړی، خو د ډېری کمېشنرانو زده کړو، کاري تجربې، پخوانیو کړنو او تړاوونو ته په کتو سره داسې ښکاري، چې موږ له یوه غمه خلاص شوو او پر بل غم واوښتو. ډېری کمېشنران په اړونده برخه کې هېڅ زده کړې نه لري، ځینې یې ان په ټاکنو کې یوه ورځ کاري تجربه نه لري او ځینې یې د ټاکنو پر الف او با هم نه دي خبر. د ځینو یې د اسنادو د جعل خبرونه خپاره شول او پر ځینو په پخوانیو دندو کې د فساد او تعصب تورونه دي، نو له همدې امله خلک ناهیلي دي او فکر کوي چې موږ له باران څخه ناوې ته راغلو.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پخواني غړي د یوې کړنلارې له مخې ټاکل شوي وو، چې ولسمشر پکې ځانګړی رول درلود. له اوږدو لانجو وروسته ولسمشر او اجرایه رییس له کاندیدانو سره مرکې وکړې او په پایله کې یې تېر کمېشنران وټاکل شول. تېرو کمېشنرانو ټاکنې بندنامې کړې، کمزوری مدیریت او فساد بیخي زیات و او دوی زموږ یوه بله ملي پروسه بدنامه، مسخره او خرابه کړه. د تېرو کمېشنرانو د ټاکلو له امله ولسمشر او اجرایه رییس له شرم او فشار سره مخ وو، ځکه دا کمېشنران دوی ټاکلي وو او دې چارې ته یې د اصلاحاتو نوم ورکړی و. د همدې شرم او فشار په سیوري کې دوی یوې داسې طرحې ته تسلیم شول چې پکې ډېرې ستونزې وې او همدغه طرحه یې په نوي قانون واړوله. اوس د دغه قانون پر اساس کمېشنران وټاکل شول چې سره له اوسه یې ناکاره توب ښکاره دی.

کیسه هغه وخت لا خرابه ښکاري چې کله موږ د دغه نوو کمېسیونو دندو ته وګورو. دوی به تېرې ټاکنې پاکوي، ټول کارکوونکي به له دندو ګوښه کوي او نوي کسان به ګوماري. د راتلونکو ټاکنو لپاره به تیاری نیسي او هغه به د تېرو ټاکنو په پرتله ښې کوي. دا دروند بار دی او دغه کمېشنران یې د وړلو توان نه لري.

که راتلونکې ټاکنې نه کېږي، نو بیا سمه ده او همدا کمېشنران دې معاشونه واخلي او په کمېسیونو کې دې وي. داسې ښکاري چې د همدې چارې احتمال هم دی، ځکه چې د سولې خبرې به ټاکنې ځنډ ته کړي، موږ به تر ډېره ټاکنې ونه لرو او پر نورو لارو چارو به کار کېږي. خو که موږ رښتیا ټاکنو ته ځو او یا اړ کېږو چې ټاکنو ته ولاړ شو، نو کیسه سر له اوسه روښانه ده. موږ له باران څخه ناوې ته را تښتېدلي یو. د دغو کمېشنرانو او کمېسیونو په وجود کې به موږ د ټاکنو په نامه یوه بله فاسده، مسخره او بدرنګه لوبه ووینو.

# ګټونکي څوک دي، طالبان که امریکا؟!

لیکوال: نصرت الله حقپال

افغانان هره ورځ د سولې د سهار په هیله له خوبه را پاڅېږي. دا سهار ډېر خوږ او لرې دی. تېرو څلوېښت کلنو جګړو او ناخوالو افغان ولس دومره ځپلی او خوار کړی، چې کله د خپل غلیم له خولې هم د سولې خبره اوري، نو په بې صبرۍ سره منډې ور وهي.

د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ امریکایي دولت د روان لمریز کال د وري په ۱۳مه، زلمی خلیلزاد له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د مخته وړلو مرکچي پلاوي مشر وټاکه او له هغې ورځې بیا تر نن پورې پنځه ځله دواړو لورو په مختلفو ځایونو کې په خپلو کې سره اوږدې خبرې کړې دي، چې وروستۍ هغه یې همدا اوس هم په قطر- دوحه کې روانې دي.

**امریکا ولې د سولې خبرې پیل کړې**

افغان جګړې ته د امریکا او غرب په مطبوعاتو او سیاسي غونډو کې د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده او حتی نه ختمېدونکې جګړې نوم ورکوي. لومړۍ نړیوالې جګړې پنځه کاله او دویمې هغې شپږ کاله دوام وکړ، خو په افغانستان کې د امریکا جګړې ۱۸ کاله پوره شول او دا دی اوس اوس خپل ۱۹م کال ته په ننوتو ده. دې جګړې خپل محبوبیت او ملاتړ په امریکایي او اروپایي ولسونو کې له لاسه ورکړی او کابو ټول په یوه خوله د دې جګړې د بندولو غوښتونکي دي.

امریکایي ولس ته دا بنیادي پوښتنه ده چې ولې او څنګه دغه جګړه نه ختمېږي، حال دا چې مقابل لوری د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې د مقابل لوري په پرتله، ډېر کمزوری او اصلاً د مقایسې وړ نه دی. داسې شک او ګومانونه شته چې امریکایي دولت او پالیسي جوړوونکي قصداً د دې جګړې غځول غواړي.

ټرمپ د امریکا د ۲۰۲۰ ز کال د ولسمشرۍ ټاکنو د ګټلو په موخه، غواړي د امریکا د ولس دې غوښتنې ته په مثبت ځواب ویلو سره، ځان د دې جګړې د ختمولو اتل ثابت کړي. نو په همدې خاطر یې د سولې مذاکرات او له طالبانو سره یوه سیاسي جوړجاړي ته د رسېدو هلې ځلې په ډېره چټکۍ سره پیل کړې دي.

**طالبان څه فکر کوي؟**

د ټولو کورنیو او بهرنیو ملاحظاتو په نظر، طالبانو وکولای شوی چې په تېرو ۱۸ کلونو کې ډېر سخت او نه ماتېدونکی مقاومت د امریکا او ناټو د یرغل پروړاندې وښیي. د امریکا-ناټو او د دوی په ملاتړ د افغان حکومت پر وړاندې، په روانه جګړه کې نه یوازې طالبان کمزوري او بې روحیې نه شول، بلکې ورځ تر بلې یې روحیه پیاوړې او د اغېز ځمکه یې ډېره شوه.

دې کې هېڅ شکه نشته چې په افغانستان کې د امریکا د روانې جګړې اصلي او تر ټولو ستر قرباني عام افغانان دي. په افغانستان او سیمه کې د امریکایي سیاست په لړ بدلون سره، چې په ترڅ کې یې امریکا سولې ته د رسېدو خبرې اترې پیل کړې، طالبان دغه وضعیت خپل امارت ته د یو ستر بري په توګه ګڼي او ځانونه د دې جګړې فاتحین بولي.

طالبان فکر کوي او په خپلو منځو کې یو بل ته مبارکي ورکوي، چې د «فتح مبین» په څومترۍ کې قرار لرو. طالبان هېڅکله دا وخت نه لري چې ژور فکر وکړي، چې ایا موږ د امریکا په دام کې را ګیر شوي یو که نه؟ لکه څنګه چې ښاغلي حکمتیار او مخلصینو یې داسې فکر کاوه.

**د مذاکراتو اصلي موضوع څه ده؟**

د مذاکراتو اصلي موضوع څلور ټکي دي:
۱- له افغانستانه د امریکا او ناټو ځواکونو د وتلو څرنګوالی ۲ – د امریکا او ناټو پر ضد د نړیوالو ترهګرو ډلو له خوا د افغان خاورې نه کارونه ۳ – اوربند ۴ - له افغان حکومت سره خبرې.

طالبان پر لومړیو دوو سره موافق دي، خو له وروستیو دوو سره تر دې دمه بحث ته حاضر شوي نه دي. خو امریکایي لوري ته څلور یاد مسایل مهم او مساوي ارزښت لري. فکر نه کوم چې طالبان دې په خپل دریځ ټینګ پاتې شي، په یو ډول نه یو ډول به، بالاخره پر څلورو پورته مواردو باندې د بحث او خبرو اترو توافق کوي. تر اوسه طالبان په روانو خبرو کې ډېر صادق او له ارادې ډک ښکاري، خو بل لوری (امریکا) له ډېرو شکونو او مکرونو سره مخته روان دی، دا ځکه چې امریکا دې دا ډول مکر او توطیو اوږد تاریخ لري. دا ډېره لرې او ویلی شم ناشونې ده چې، امریکا دې له افغانستانه خپل ټول پوځیان وباسي. د زلمي خلیلزاد په شمول، ټول امریکایي چارواکي ضد او نقیض خبرې کوي، چې په ژور تحلیل سره دا پیغام ترې اخیستل کېږي، چې په یو نوم نه یو نوم سره خپل ډېر پوځیان او استخباراتي کسان په افغانستان کې ساتي. که نور هېڅ نه وي، د سفارت د ساتونکو، له تروریستي ډلو سره د مبارزې ډله، د افغان ځواکونو د روزنې او یا کوم بل نوم، بالاخره خپل نظامي-استخباراتي حضور ته ادامه ورکوي.

**ګټونکي څوک دي؟**

ظاهراً داسې معلومېږي چې ګویا طالبان د جګړې او مذاکراتو وړونکي دي او دوی د امریکا په نسبت لوړ دریځ کې دي. خپله طالب چارواکي همداسې فکر او احساس کوي. د دوی له څرګندونو او له رسنیو سره له مرکو په اسانه دغه برداشت کېږي. خو زه داسې فکر نه کوم، قضیه د دې برعکس ده. په مکر او سیاست پخو امریکایي مرکچیانو په قصدي ډول وضعیت داسې مهندسي کړی، چې وښيي امریکا بایلونکې او طالبان وړونکي دي.

خو حقیقت داسې نه دی، طالبان د دغو خبرو اترو اصلي بایلونکي دي. طالبان به د دغو مذاکراتو په ترڅ کې، داسې یوه پخه لغته وخوري، چې په ټول عمر به بیا د مبارزې ډګر ته د راتګ توان ونه لري. امریکا په مذاکراتو کې د خپل سیال د ماتولو او ترلو اوږده تجربه او مهارت لري، دوی حالات ډېر ښه مدیریت کوي چې طبیعي پایله یې د دوی په ګټه وي. د بېلګې په توګه، له ایران سره د اټومي هوکړې مسئلې ته اشاره کولی شو. روانې خبرې اترې د طالبانو د بشپړې نابودۍ خبرې دي، طالبان امریکا ته په مفته هغه څه ورکوي چې په ۱۸ کلنه جګړه کې د ۲۵۰۰ سرتېرو په وژل کېدو سره یې لاسته را نه وړل. طالبان فکر کوي چې دوی به اسلامي امارت له امریکا سره د یوې سیاسي هوکړې په کولو سره رامنځ ته کړي او په دې توګه به امریکایي اشغال ته د پای ټکی کېږدي؟

**سوله به راشي**

که څه هم زما دا خبره د ټولو عامو خلکو او د نظر خاوندانو خلاف ده، چې د دغو مذاکراتو په پای کې دې هغه سوله راشي چې مونږ افغانان یې غواړو او تعریف ترې لرو. زه د مطلق اکثریت د دې نظر او وړاندوینې خلاف وایم، چې که له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک هم شي، په افغانستان کې هغه سوله نه راځي چې افغان ملت یې غواړي. دلیل یې دا دی چې خپله امریکایي او افغان مشران وایي، چې دلته ۲۲ نورې ترهګرې ډلې فعالې دي. سربېره پر دې، په افغانستان او سیمه کې د امریکا سیاست او تګلاره د جګړې او بې نظمیو سیاست دی، نو څنګه به بشپړه سوله راشي؟

ممکن د جګړې جغرافیه، نوم او لوبغاړي او کچه یو څه تغیر وکړي، خو هغه مطلوبه سوله چې شپه او ورځ یې واړه او زاړه په تمه دي، هېڅکله به هم د داسې هوکړې په ترڅ کې را نه شي.

# ولسمشر غني: له سیاسي ګوندونو سره د ټاکنیزو کمېسیونو د نوو کمېشنرانو اړیکه سرغړونه ده



ولسمشر غني ویلي، د ټاکنیزو کمېسیونونو نوي ټاکل شوي کمېشنران له سیاسي ګوندونو سره د اړیکو ساتلو حق نه لري.

نوموړي تېره ورځ په ارګ کې د یادو کمېشنرانو د تحلیف مراسمو پر مهال ویلي، یادو کسانو چې مخکې له سیاسي ګوندونو سره کوم تړاو درلود، سر له ننه دغه اړیکې پرې کېږي.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان د ټاکنو له قانون سره سم، د ټاکنیزو کمېسیونو هېڅ غړی دا حق نه لري، چې په سیاسي حزب کې فعالیت وکړي. له سیاسي حزبونو سره چې کومې مخکینۍ اړیکې لرلې، سر له ننه قطعه کېږي او ستاسو اړیکې سرغړونې بلل کېږي.»

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنیزو کمېسیونو لپاره ۸۱ تنه د سیاسي حزبونو او پر ټاکنو د څار بنسټونو له خوا معرفي شوي وو، چې ۱۴ تنه یې د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو د نوو کمېشنرانو په توګه غوره شول. غني ویلي چې د تېرو پارلماني ټاکنو د پایلو اعلانولو په برخه کې رامنځته شوو ستونزو ته په کتو، اړتیا پیدا شوه چې د دواړو کمېسیونونو په ترکیب کې اصلاحات رامنځته او د ټاکنو قانون هم تعدیل شي.

هغه دغه راز ویلي چې له دندې د ناوړه استفادې او فساد د مخنیوي لپاره دواړه کمېسیونونه باید په خپلو کې سره کېني او د کمېشنرانو د قرنطین یو مشخص میکانېزم رامنځته کړي. هغه له نورو کمېشنرانو غوښتي چې تر راتلونکو دوو ورځو خپل رییسان وټاکي او راتلونکو ټاکنو ته د چمتووالي ترڅنګ، د تېرو پارلماني ټاکنو وروستۍ پایلې هم ژر تر ژره معلومې کړي.

نوموړي زیاته کړې چې د ټاکنو د نوي قانون د تعدیل پر اساس، د ټولو ټاکنیزو تېروتنو د جزا په نافذه قوانینو کې وړاندوینه شوې، چې د عدلي ارګانونو لخوا تر څېړلو وروسته به یې سرغړوونکو ته د نافذه قوانینو له مخې سزا ورکړل شي. د ولسمشر غني د نوي فرمان پر اساس، چمن شاه اعتمادي د افغانستان د شکایتونو د کمېسیون او حبیب الرحمن ننګ د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا مشران ټاکل شوي دي.

دغه راز سید عصمت‌الله مل، مولانا محمد عبدالله، اورنګزیب، محمدحنیف دانشیار، مسافر قوقندي، حواعلم نورستانۍ او رحیمه ظریفي د ټاکنو کمېسیون د نوو غړو په توګه ټاکل شوي دي.

محمد قاسم الیاسي، زهره بیان شینواري، مولوي دین‌محمد عظیمي، محمدیونس طغرا او سید قطب‌الدین رویدار بیا د شکایتونو کمېسیون غړي ټاکل شوي دي.

# مسافرین: له کابل نه ډېلي ته د هوایي پروازونو بیې دوه برابره لوړې شوې دي




له تېرو څو ورځو راپدېخوا، افغان هوایي شرکتونو له افغانستان څخه هند ته د خپلو ټکټونو بیې ۳۰۰ امریکایي ډالرو ته لوړې کړې دي.

له کابل نه ډېلي ته تلونکي افغان مسافرین وایي، مخکې له کابل نه ډېلي ته یو طرفه ټکټ په ۱۲۰ امریکایي ډالره و، خو اوس هوایي شرکتونو دغه بیه ۳۰۰ امریکایي ډالرو ته لوړه کړې ده.

د یادو مسافرینو له ډلې کبیر عرفان امریکا غږ ته ویلي: «یو ځل ټکټ راته په ۳۰۰ امریکایي ډالره پیدا شو، وامې خیست، پلار مې ناروغ دی، د درملنې لپاره مې راوستی دی، اوس مجبور شوم، دوه ټکټه په ٦۰۰ امریکایي ډالره واخلم».

د افغانستان هوایي شرکتونه هم مني او وایي، چې له کابل نه ډېلي ته د ټکټونو بیې لوړېدو اصلي لامل د بهرنیو پروازونو پر مخ د پاکستان د هوایي حریم بندېدل دي.

د کام ایر شرکت رییس فرید پیکار ویلي، چې د ټکټونو د بیو لوړېدل موقتي دي چې د پاکستان د هوایي حریم په خلاصېدو سره به بیې بېرته مخکینې حالت ته راوګرځي.

نوموړي زیاته کړې چې افغان هوایي شرکتونه د یادې ستونزې تر رامنځته کېدو وروسته، د پاکستان پر ځای د ایران د فضا له لارې هند ته پروازونه کوي چې د پاکستان په پرتله زیاته فاصله او وخت نیسي، چې له امله یې لګښت ته په کتو، بیې هم لوړې شوې دي.

پیکار ویلي: «فعلاً چې د پاکستان حریم بند دی، په دې خاطر ټکټ ۳۰۰ ډالرو ته لوړ شوی، مخکې چې به د کابل پروازونه د پاکستان له فضا نه هند ته تېرېدل، یو ساعت او پنځوس دقیقې وخت یې نیوی؛ اوس د ایران له فضا نه د کابل نه هند ته پرواز پنځه ساعته او له هند نه کابل ته شپږ ساعته وخت نیسي».

هغه دغه راز ویلي، هغه کسان چې د یادې ستونزې تر رامنځته کېدو مخکې یې ټکټونه اخیستي، له هغوی یوازې ۱۲۰ او ۱۸۰ امریکایي ډالره اخیستل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې پاکستان تېره اونۍ د کب په اتمه له هند سره د کړکېچ تر پراخېدو وروسته، خپل هوایي حریم د ټولو هوایي پروازونو پر مخ بند کړ. د پاکستان د هوایي چلند ادارې د تېرې جمعې په ورځ خبر ورکړ، چې خپل هوایي حریم به د سوداګریزو پروازونو پرمخ پرانیزي.

# د صوبه سرحد رېفرنډم

لیکنه: صفیه حلیم

رېفرنډم هغه ټاکنې وي چې له ولس نه پکې یوه پوښتنه شوې وي. دغه څه په هغه حالت کې کېږي، چې پارلمان د یوې ستونزې په حل کې پاتې راشي او یا په خپلو کې سره وېشلي وي، خو ډېر خلک دېته په ښه نظر نه ګوري؛ ځکه دا یوه ستونزه د هوارولو پر ځای نوره هم پېچلې کوي.

په ۱۹۴۵ ز کې له جاپان سره د جنګ له کبله، د برېټانیا لومړي وزیر چرچېل پارلمان ته د خپل واک د مودې غځولو لپاره د رېفرنډم وړاندیز وکړ، خو د ده مرستیال «کلیمنټ ایټلي» دغه وړاندیز رد کړ او ویې ویل چې: «رېفرنډم د نازي جرمني او فاشېسټانو د لاس یوه اله ده». له دې خبرې دوه کاله وروسته، تر برېټانوي واک لاندې په صوبه سرحد کې هغه رېفرنډم تر سره شو، چې له نیم نه زیات ولس ترې خبر هم نه و.

د هند وېش او د واک سپارلو لپاره د برېټانیې نوی وایسرای لارډ ماونټ بېټن د ۱۹۴۷ ز کال د فبرورۍ په ۲۰مه ډیلي ته له رسېدو سره سم، له لویو سیاسي مشرانو سره خبرې اترې پیل کړې. د افغانستان حکومت هم غوښتل چې د صوبه سرحد په اړه باید له دوی سره خبرې وشي، خو برېټانویانو وویل چې هغه پکې د خبرو حق نه لري. د لویو سیاسي ګوندونو، کانګرېس او مسلم لیګ په ګډون، یو پلان د همدغه کال د جون په ۳مه ولس ته په ډاګه شو.

د دغه پلان یوه ماده وایي چې د مسلمان اکثریت سیمې چې په اوسني پارلمان کې ګډون نه کوي، ځانته به یوه اسمبلۍ ولري. د بنګال او پنجاب د وېش لپاره به د سرحدونو د ټاکنې کمېشن جوړېږي. په صوبه سرحد او ختیځ بنګال «سلهټ» کې به رېفرنډم کېږي. په سلهټ کې اکثریت د مسلمانانو دی او د مسلم لیګ لومړی حکومت هم هلته جوړ و.

په نورو ټولو ځایونو کې صوبای پارلمان په خپله دا فیصله کولی شوای، چې هند یا پاکستان به له چا سره یو کېږي. په صوبه سرحد کې هم پارلمان موجود و او هم د جکومت مشر وزیر د باچاخان ورور ډاکټر خان(عبد الجبار) و.

د جون د پلان خلاف په بنو کې د جون په ۲۱مه د قبایلو په یوه ګډه جرګه کې د خپلواک ملک «پښتونستان» اعلان وشو. د دغه ملک بیرغ هم جوړ شو او د قبایلو یو مبارز میرزا علیخان (ایپي فقیر) یې مشر وټاکل شو. د کانګرېس مشرانو د «پښتونستان» مخالفت کاوه؛ ځکه په جنوبي هند کې د ټریونکور ریاست له سوونو کلونو راهیسې خپلواک و او که صوبه سرحد یې د یو بېل ملک په توګه منل وای، نو بیا هغسې نورو ریاستونو هم ځان له هند نه بېلوو.

عبدالغفار خان د رېفرنډم خلاف هلې ځلې پیل کړې او په ډیلي کې یې ماونټ بېټن ته وویل، چې ته مو لېوانو ته پرېږدې؟ هغه په جناح او ګاندي دواړو زور راوړ چې د رېفرنډم پوښتنه باید بدله شي. له هند او پاکستان سره د خپلواک پښتونستان نوم هم ور زیات شي. مهاتما ګاندي د عبدالغفار ملاتړ کاوه، خو نهرو یې بیا خلاف و. باچاخان له کانګرېس او د افغانستان له حکومته نهیلی شو چې له ده سره یې دوکه کړې وه.

ډاکتر خان د صوبه سرحد ګورنر «اولف کېرو» د مسلم لیګ په پلوۍ تورن کړ، نو هغه له خپلې دندې لرې او پر ځای یې رابرټ لاکهارټ ګورنر شو. ماونټ بېټن په خپله د صوبه سرحد په سفر نور هم باوري شو چې هلته رېفرنډم پکار و. برېټانویان په وېره کې وو چې، څو په هند کې شاهي ضد او ملتپال سوشیلېسټ موجود وي، تر هغې به د دوی حکومت ته د روس له خوا ګواښ هم پاتې وي. باچاخان پر دې پوهېدو او په ډاګه کړې یې وه چې انګرېز د روسانو خلاف حملو لپاره، له صوبه سرحد نه د یوه جنګي مرکز جوړول غواړي. د دې سبب د برېټانیا جنرال منټګمري او د مسلم لیګ مشر محمدعلي جناح ترمنځ ملاقات و. د هغه دا خبره ۴۳ کاله وروسته رښتیا شوه.

د رېفرنډم نېټه د یاد کال د جنورۍ ٦مه او ۱۷مه او مشر یې برېګیډیر جي – آر بوټ وټاکل شو. خدایي خدمتګار غورځنګ ترې د پرېکون (بایکاټ) فیصله وکړه او دا شعار یې ورکاوه:

صبا به بیا په رایه عامه کېږي ووټونه
نړدې نه شي پښتونه

د صوبه سرحد د خلکو شمېر هغه وخت ۳۵ لکه و. په دوی کې یوازې ۱۷ سلنه وګړو ته د رایې ورکولو اجازه وه. دا شمېره ۵ لکه، ۷۲ زره، ۷ سوه او ۹۹ جوړېده. هزاره، کوهاټ، بنو او ډېره اسماعیل خان کې خلکو رایې ورکولی شوای، خو د سوات، دیر، امب، او چترال خلک له رایې ورکولو محروم وو. دغسې د باجوړ، خیبر، وزیرستان او د کرمې ازاد قبایل هم پکې نه وو شامل. په دې توګه د ۲۹ لکو خلکو هېڅ برخه نه وه.

د رایو په مرکزونو کې د سور رنګ صندوق د هندوستان او شین (زرغون) رنګ کې د پاکستان لپاره و. حکومت دعوه کوله چې ۵۱ سلنه خلکو خپلې رایې ورکړې چې ۲ لکه، ۹۲ زره او ۱۱۸ کسان وو. د جولای په ۲۰مه یې نتیجه اعلان شوه. په دې کې د پاکستان لپاره ۲ لکه، ۸۹ زره او ۲۴۴ یانې له ۹۹ سلنو څخه زیاتو خلکو رایې ورکړې. د هند لپاره ۲۸۷۴ رایې ورکړل شوې چې له یوې سلنې هم کم و. د دغه رېفرنډم لپاره د رایې ورکوونکو شمېر د ۱۹۴۶ ز کال له انتخاباتو اخیستل شوی و. په یو کال کې د سیمې ډېرو هندوانو او سیکانو کډه کړې وه.


ځینې خلک د شخړو له وېرې کلیو ته تللي وو او ځینې مړه شوي وو. دویمه دا چې له نړیوالو اصولو سره سم، د خپلواکۍ لپاره د یو ولس په دریو کې دوې برخې باید رایې ورکړي.

د باچاخان زوی عبدالولي خان وروسته په یوه مرکه کې وویل چې برېټانویانو په دغه رېفرنډم کې په ډاګه د مسلم لیګ پره کوله. دوی په زرګونو کسان په وروستیو شېبو کې د ټاکنو لپاره په دې شرط راجسټر کړل، چې د پاکستان په نوم به ټاپه لګوي. پښتنو ملتپالو پوښتنه کوله چې اته میاشتې وړاندې، ولس دوی ته د خپلې نمایندګۍ لپاره رایې ورکړې دي. په څو میاشتو کې د دوی باور څنګه ختم شو؟ مخالفو ورته وویل چې که دوی په خلکو کې دومره معتبر او د باور وړ وو، نو په رېفرنډم کې به یې برخه اخیستې وای. په بایکاټ خو دوی پخپله مسلم لیګ ته لاره هواره کړه. له رېفرنډم نه یوه میاشت وروسته هند ووېشل شو، خو ماونټ بېټن د ډاکټر خان وزارت معطل نه کړ او نه د کابینې غړو استعفا ورکوله. اخر دا کار د پاکستان نوي حکومت وکړ، چې د انګریز پوره ملاتړ ورسره و.

په ۱۹۵۰ ز کې په رزمک کې په یوه قامي جرګه کې میرزا علیخان د «پښتونستان» د اسمبلۍ صدر وټاکل شو، خو په عمل کې دغه سیمه هماغسې وروسته پاتې شوه. لس کاله وروسته دی ګروېک کې په خپل مرګ مړ شو. په ۱۹۷۰ ز کال کې د چترال، سوات، دیر او امب نوابۍ هم د پاکستان برخه شول.

## د ولسي جرګې برحاله غړي:

# که ولسمشر پارلمان افتتاح نه کړي، پخپله لاس پکار کېږو



د ولسي جرګې برحاله غړي وایي، که ولسمشر د ملي شورا نوې دوره افتتاح نه کړي، نو دوی به لاس پکار شي. ملي شورا هر کال د کب یا حوت میاشتې په پنځلسمه د ولسمشر او د هغه د مرستیال له لوري پرانیستل کېږي، خو دا ځل د تېرو ټاکنو د پایلو نه معلومېدل او د نوي پارلمان نه معرفي کېدلو، دغه لړۍ له مبهم حالت سره مخ کړې ده.

د ولسي جرګې برحاله وکیلان بیا وایي چې که حکومت د کب په پنځلسمه اوسنی پارلمان د برحاله وکیلانو په حضور کې افتتاح نه کړي، نو دوی به پخپله لاس پکار شي. وکیلان وایي، د ولسي جرګې اوسني غړي قانوني صلاحیت لري او د نوي پارلمان تر راتګ پورې خپلو چارو ته ادامه ورکوي. وکیلان استدلال کوي، چې تېرې ټاکنې له درغلیو ډکې وې، لا هم د رایو برخلیک نه دی روښانه، وروستۍ پایلې نه دي اعلان شوې، نو حکومت ته پکار ده، چې د اوسنیو برحاله وکیلانو په حضور کې د ملي شورا پرانیسته وکړي.

پر ټاکنو یوشمېر څارونکي بنسټونه هم وایي، چې په تېرو پارلماني ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې دي، خلک له ټاکنو راضي نه دي او د پایلو اعلان له بن‌بست سره مخ دی، نو ځکه د اوسنیو وکیلانو په حضور کې باید پارلمان پرانیستل شي. بل پلو په کابل کې د امریکا سفارت بیا پر حکومت غږ کړی، چې ژر تر ژره دې وروستۍ پایلې اعلان کړي او د ملي شورا دا دوره دې د نویو وکیلانو په موجودیت کې پرانیزي.

خو له دې ټولو سره سره، برحاله وکیلان د کب په پنځلسمه د پارلمان په پرانیسته ټینګار کوي. دوی وایي، تېرې ټاکنې له درغلیو ډکې وې، نو اوس که حکومت د اوسنیو وکیلانو په حضور کې پارلمان نه پرانیزي، نو وکیلان تیار دي چې پخپله پارلمان افتتاح کړي.

د ولسي جرګې غړی زکریا زکریا وایي، ولسمشر باید له معمول سره سم راشي او د برحاله وکیلانو په حضور کې پارلمان پرانیزي. زکریا وایي: «معمول خو دا دی چې د حوت په پنځلسمه به ولسمشر راځي او پارلمان به پرانیزي، خو که داسې و نه کړي، دا د وکیلانو دنده ده چې پارلمان پرانیزي. د دوی مسوولیت دی چې خپلو چارو ته ادامه ورکړي، تالار ته لاړ شي او خپله دنده پیل کړي.»

د ولسي جرګې منشي میرداد نجرابي هم وایي، د دوی کار هغه مهال پای ته رسېږي، چې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شي او نوی پارلمان کار پیل کړي. هغه زیاته کړې: «د ټاکنو قانونو او همدا راز د اساسي قانون له مخې زموږ دنده هغه وخت پای ته رسېږي، چې نوي وکیلان راشي، د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شي او که داسې ونه شي، نو د استازو مسوولیت دی، چې په پارلمان کې حاضر وي».

حکومت تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت ویلي وو، چې د ملي شورا نوې دوره به د نویو وکیلانو په حضور او موجودیت کې پرانیزي. بل پلو په کابل کې د امریکا سفیر جان باس ویلي، چې نوی پارلمان باید د نویو وکیلانو په حضور کې پرانیستل شي او په دې برخه کې دې هېڅ راز ځنډ نه رامنځ ته کېږي.

خو پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي، چې د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې پراخې درغلۍ او تېروتنې د دې لامل شوې، څو د ملي شورا پرانیسته له داسې برخلیک سره مخ شي او که ملي شورا افتتاح نه شي، د مقننه قوې نشتوالی به ډېرې ستونزې جوړې کړي.

د تیفا اجرایه رییس محمدنعیم ایوب‌زاده وایي، په ټاکنیزو کمېسیونونو کې ستونزې او سیاسي ګومارنې د دې سبب شوې، چې نن د حکومت ډېر بنسټونه د مشروعیت له بحران سره مخ شي. د نوموړي په خبره، حکومت لا هم مصلحتونه مهم بولي او لا هم په داسې مهمو او ملي پروسو کې رښتیني اصلاحات نه راولي.

# نتانیاهو: له سوریې د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره له روسیې سره ګډ ټیم جوړوو



د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو ویلي، د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین سره یې له سوریې نه د بهرنیو ځواکونو په وتلو خبرې کړې دي.

نتانیاهو ویلي چې له روسیې سره موافقې ته رسېدلی، څو له سوریې د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره یو ګډ کاري ټیم جوړ کړي.

هغه دغه راز په مسکو کې روانه اونۍ هڅه وکړه چې ولسمشر پوتین قانع کړي، څو ایران ته په سوریه کې د پوځي حضور اجازه ورنه کړل شي.

نتانیاهو د خپل هېواد کابینې ته ویلي: «جمهور رییس پوتین او زه په یوه ګډ هدف موافقې ته ورسېدو. له سوریې د بهرنیو ځواکونو وتل چې د کورنۍ جګړې له پیله دغه هېواد ته ورغلي، موږ موافقه وکړه چې دغه هدف او ځینو نورو هدفونو ته د رسېدو لپاره یو ګډ کاري ټیم جوړ کړو».

دا په داسې حال کې ده چې روسیې او ایران دواړو د سوریې په اته کلنه جګړه کې د بشارالاسد له رژیمه ډیپلوماټیک او پوځي ملاتړ کړی دی.

دغه راز اسرائیلو ژمنه کړې چې په سوریه کې به د ایران د پوځي حضور له پراختیا مخنیوی کوي.

اسرائیلو په تېرو څو کلونو کې په سوریه کې پر هغو سلګونو اهدافو هوایي بریدونه کړي چې وایي، د ایران پوځي ملېشې او د حزب‌الله په ګډون، د ایران د متحده ډلو پوځیان پکې وو.

دا په داسې حال کې ده چې ایران په سوریه کې د سپاه پاسداران انقلاب د ځواکونو د قدس ډلې په چوکاټ کې، د فاطمیون او زینبیون په نوم دوې ملېشه ډلې ګومارلې دي.

ایراني چارواکو ویلي چې په سوریه کې د ایران د پوځي سلاکارانو حضور د اسد د رژیم په خوښه دی.

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې سپینې ماڼۍ تېره میاشت ویلي وو چې له سوریې خپل نږدې ټول عسکر باسي او یوازې ۴۰۰ سرتېري به د دغه هېواد په ختیځو برخو کې پرېږدي.

دغه راز د سوریې په ختیځ کې د کردانو په مشرۍ، د سوریې ډیموکراټیک پوځ د داعش له پاتې شویو جنګیالیو سره جګړه مخته وړي.

ترکیې هم چې په سوریه کې د بشارالاسد د حکومت له مخالفو ډلو ملاتړ کوي، ویلي چې له روسیې سره په همغږۍ د سوریې په شمال کې د یوه امن زون د جوړولو لپاره کار کوي.

## د کتاب خبري

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
ژبارن: میراحمد یاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه ګڼې، هماغه یې




دا استاد په انساني اروا ډېر ښه پوهېده او ښه یې پېژندلې وه. په دې کې هېڅ شک مه کوئ چې ستاسې ظاهر ستاسې په ذهن اغېز کوي او ستاسې بدن ستاسې په اروا اغېز کوي. ستاسې بهرنی سینګار که څه هم ظاهري خبره ده، خو ستاسې د فکر په بڼې او احساس اغېز کوي او دا دواړه باطني مسائل دي.

هر ماشوم (د خولۍ دوره) تېره کړې ده. په دې دوره کې چې ماشوم ځان څه ډول ښودل غواړي، د هماغه کرکټر خولۍ په سروي. زما یادېږي چې له خپل زوی (دیوي) سره مې په همدې خولۍ یوه خبره تاوه شوې وه. دی راته یوه ورځ کلک شو چې زه لون رینجر LONE RANGER کېږم، خو د لون رینجر خولۍ ورسره نه وه.

ما ورته وویل چې خیر دی بله خولۍ پر سر کړه، خو هغه راته ویل چې: (پلاره! د لون رینجر خولۍ چې نه وي، زه د هغه په څېر فکر نه شم کولای.)

بلاخره مې ورته همدا خولۍ واخیسته او خولۍ یې چې څنګه پر سر کړه، هلک لون رینجر شو.

زه دا پېښه ډېره رایادوم، ځکه دې پېښه کې، پر فکر د ظاهر د اغېز ډېره ښه بېلګه پرته ده. چا چې عسکري کړې وي، پوهېږي چې سرتیری په خپله رسمي دریشۍ کې د سرتیریتوب ښه احساس کوي. کومې ښځې چې د مېلمستیا جامې اغوستې وي، مېلمستیا ته د تللو ډېر ښه احساس کوي.

همدارنګه چې مدیر د مدیرانو جامې واغوندي، نو د مدیریت احساس کوي. یو پلورونکی همدا خبره په یوه بله بڼه کوي او وایي: (تر څو چې ځان پر دې ډاډه نه کړم چې ظاهري حالت مې د بریالیو، ښایسته او منظمو خلکو په څېر نه دی، تر هغې پر ځان د ډاډ او باور احساس نه کوم او دا احساس چې راکې نه وي، نو ښه او بریالی خرڅلاو هم نشم کولای.)

ستاسې ظاهر له تاسې سره غږېږي، خو له نورو سره هم غږېږي. دا ستاسې په اړه درته د نورو خلکو فکر او نظر ښیي. دا به ډېره ښه وای چې خلکو د انسان د ظاهر او لباس پر ځای د هغه باطني ښېګڼو ته کتلای، خو مه تېروځئ. خلک ستاسې په اړه ستاسې د ظاهري حالت له مخې قضاوت کوي. ستاسې ظاهري حالت ستاسې په اړه د خلکو د قضاوت لومړنی اساس دی. لومړی تاثر هېڅکله نه هېرېږي، که څه هم رامنځته کېدو یې ډېر وخت نیولای وي.

یوه ورځ مې په یوه دوکان کې په انګورو سترګې ولګېدې. پاو په لس روپۍ وو. هاخوا نور انګور ایښي وو، چنداني توپیر یې سره نه و، خو هغه په پاکټ کې بند وو او پاو په شل روپۍ وو.

ما دوکاندار ته وویل چې: (د دې لسو او پنځلسو روپیو په انګورو کې څه فرق دی؟)

هغه راته وویل: (همدا د پلاستیک فرق دی. په پلاستیک کې بند انګور تر دې نورو ګران دي، ځکه دې ته سترګې ډېرې اوړي.)

نو که بل ځل خپل ارزښتونه ښیئ، د انګورو مثال در یاد کړئ، څومره چې په ښایسته پاکټ کې یئ او ښایسته بسته بندي شوي یئ، هومره به سترګې ډېرې در اوړي او د ښه او لوړ خرڅېدو چانس به مو ډېر وي.

اصلي ټکی دا دی چې: څومره چې تاسې ښه بسته بندي شوئ، هومره به په ولس کې ډېر منل کېږئ.

سبا پام وکړئ چې په هوټلونو، موټرونو، لارو کوڅو، دوکانونو او کار ځایونو کې د چا ډېر درناوی کېږي. خلک چې څنګه چا ته وګوري، په اړه یې یوه چټکه او لاشعوري ارزونه کوي او بیا ورسره د همدې پر اساس چلند کوي.

موږ چې ځینو خلکو ته وګورو، سمدستي ورته وایو: (پخیر فلانیه!)، خو ځینو نورو ته چې وګورو، نو له (ښاغلي) ویلو پرته پرې د غږ کولو زړه نه شو کولای.

هو، دې کې شک نشته چې د شخص ظاهر غږېږي. چا چې ښې جامې اغوستې وي، ظاهر یې مثبت غږېږي، خلکو ته وایي چې: (دا مهم کس دی، هوښیار دی، تکړه دی، بریالی دی او د باور وړ دی. پر دې کس باور کېدای شي، درناوی یې کېدای شی. دا خپل قدر کوي، زه د ده قدر کوم.)

خو د نامنظمه انسان ظاهر هم منفي غږېږي، وایي چې: (بې پروا، بې ګټې او نامهم انسان دی. دا عادي کس دی. په ځانګړي پام نه ارزي.)

زه په زیاتره روزنو او ورکشاپونو کې پر دې ټینګار کوم چې: (د خپل ظاهر قدر وکړئ)، نو پوښتنه رانه کېږي چې: (که څوک د ښو جامو اخیستو وس ونه لري، څه به کوي؟)

دا پوښتنه رښتیا هم سخته ده، ما هم پرې ډېر وخت فکر کاوه، خو اوس یې ځواب ډېر اسانه دی:

دوه چنده پیسې ورکړئ او نیمه سودا واخلئ.

دا ځواب لومړی حفظ کړئ او بیا یې عملي کړئ. بیا همدا طریقه په جامو، بوټانو، کورتیو، جرابو او نورو جامو عملي کړئ. دا چې د فرد ظاهر مهم دی، نو په دې برخه کې د کیفیت ارزښت د کمیت تر ارزښته ډېر لوړ دی. که دا یو اصل مو مراعت کړ، نو ستاسې قدر به خپل ځان او د نورو خلکو قدر به تاسې ته ډېر زیات شي. تر څنګ به یې پر دې هم پوه شئ چې د پیسو له پلوه مو پرمختګ کړی، ځکه که تاسې پیسې ډېرې ورکړئ او سودا لږه واخلئ نو:

**دوام لري...**

# جان ادامز

شفیق امیرزی



د امریکا پخواني ولسمشران تر ډېره متفکرین او روشنفکره کسان وو. دوی د پیسو او زور په واسطه نه، بلکې د خپل ذکاوت په وسیله ولسمشرۍ او واک ته رسېدل. له دې ډلې یو هم جان ادامز دی، هغه د انساني او روښانه افکارو د لرلو له امله په نړۍ کې مشهور دی. دی د امریکا د پرمختګ له بنسټ اېښودونکو شمېرل کېږي او امریکایي وګړي درناوی ورته لري.

ادامز د امریکا دویم ولسمشر دی. هغه د ۱۷۳٥ ز کال په اکتوبر کې زیږېدلی او د ۱۸۲٦ ز کال د جولای په څلورمه له دې نړۍ تللی دی. د جان ادامز د حکومت موده د (۱۷۹۷-۱۸۰۱) کلونو ترمنځ وه. هغه د امریکا دویم ولسمشر دی چې د ټاکنو له لارې واک ته رسېږي.

په ۱۷۹٦ ز کال کې د امریکا په سیاست کې ستر بدلون راغی. په امریکا کې د دریم ځل لپاره ولسمشریزې ټاکنې کېدې. دا لومړی ځل و، چې تر یوه ډېرو کسانو ځانونه ولسمشرۍ ته نوماند کړي وو. جورج واشنګټن په دوو مخکینیو دورو کې سیال نه درلود. خو په دې دوره کې دوه سیاسي حزبونه جوړ شوي وو. فدرالیستان د امریکا د خزانې د پخواني وزیر الکساندر همیلتون په مشرۍ راټول وو او جمهوري غوښتونکي بیا د توماس جفرسون په مشرۍ. جفرسون پخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر و. د ادامز بریا ځکه د باور وړ وه، چې په ټول هېواد کې خلکو پېژانده. ده د امریکا د خپلواکۍ لپاره مبارزه کړې وه او دوې دورې د ولسمشر مرستیال هم پاتې شوی و.

جان ادامز پوه او هوښیار سړی و. هغه په رښتیا له وطن سره مینه لرله او تکړه ډیپلومات و. سره له دې چې د فدرالیست ګوند غړی و، خو له حزبي سیاستونو سره یې مینه نه لرله. همدې کمزورۍ د ولسمشرۍ پر مهال ده ته ستونزې جوړې کړې.

جان ادامز په ۱۷۳٥ ز کال کې د ماساچوست خلیج په کډوال مېشته سیمه کې زیږېدلی دی. هغه له هارواړ پوهنتون د حقوقو په برخه کې خپل ډیپلوم اخیستی و او ډېر ژر پر وطن د یوه مین سړي په څېره کې را څرګند شو. جان ادامز د خپلواکۍ لپاره د کانټیننټال د لومړۍ او دویمې کنګرې مشري په غاړه لرله. د جګړو په اوږدو کې یې په فرانسه او هالنډ کې د ډیپلومات دنده تر سره کړې او د سولې د هوکړې په مذاکراتو کې یې هم برخه اخیستې ده. ادامز د جورج واشنګټن د ولسمشرۍ پر مهال د ولسمشر مرستیال و. په دې توګه نو هغه د امریکا لومړنی مرستیال ولسمشر هم دی. هغه ډېر تکړه، هوښیار او پوه سړی و، خو د مرستیالۍ له دوو دورو ډېر ناهیلی و. جان ادامز ډېر وروسته خپلې مېرمنې ابیګیل ته وویل، د ولسمشر مرستیالي د انسانانو په لاس د نړۍ تر ټولو بې مانا رامنځ ته شوی پست دی.

کله چې ادامز د امریکا ولسمشر شو، نو په دې وخت کې د یاد هېواد نفوس (٥۳۰۸٤۸۳) کسانو ته رسېد. په دې وخت کې د بریټانیا او فرانسې تر منځ جګړو، دغه هېواد ته ډېرې ستونزې جوړې کړې وې، په تېره په خپلواکو سیندونو کې له حده ډېر کشمکش رامنځ ته شوی و، له بلې خوا په امریکا کې د دغو دواړو هېوادونو د پلویانو تر منځ وضعیت ترینګلی و. ادامز یو سوله پال او د سولې ملاتړی کس و. هغه په داسې وخت کې واک ته ورسېد چې امریکا له جګړو سره مخ وه، خو ده نه غوښتل جګړه وکړي او د سولې له لارې یې غوښتل جګړه ختمه شي. ادامز له فرانسې او بریټانیا سره سوله غوښته، ترڅنګ یې د امریکا د ودې او پرمختګ او قوانینو د سمون پلوی هم و. ده نه غوښتل چې د جورج واشنګټن د ولسمشرۍ سبک تعقیب کړي، له همدې امله هم په حکومت کې دننه له ستونزو سره مخ و او هم له حکومته بهر.

جان ادامز تر هر څه وړاندې یو پیاوړی ډیپلومات و. هغه په ۱۷۷۸ ز کال کې په پاریس کې د امریکا سفیر و. یو کال وروسته امریکا ته راغی او دلته یې د اساسي قانون د جوړولو پر پروسه کې کار کاوه. د ۱۷۸۰ ز کال په شاوخوا کې جان ادامز بیا اروپا ته د سفیر په توګه ولېږل شو. په ۱۷۸۳ ز کال کې یې له جان جې او بنجامین فرانکلین سره د پاریس د هوکړې په برابرولو کې مرسته وکړه. همدې هوکړې په رسمي توګه د امریکا او برېټانیا ترمنځ جګړه پای ته ورسوله. هغه د ۱۷۸٥ او ۱۷۸۸ ز کلونو ترمنځ په برېټانیا کې د امریکا لومړنی سفیر و. کله چې امریکا ته را وګرځېد، د اساسي قانون په هغه غونډه کې یې ګډون وکړ، چې جورج واشنګټن یې د ولسمشر په توګه وګوماره. جان ادامز په همدې غونډه کې ځان لومړۍ مرستیالۍ ته معرفي کړ او بریالی شو. په دغو ټاکنو کې ولسمشر او د ولسمشر مرستیال په جلا جلا رایو ټاکل کېدل.

تر دې وروسته جان ادامز له داسې یوه ولسمشر سره مرستیال و، چې د دواړو د نظرونو او پلانونو ترمنځ خورا ډېر واټن و. همدې مسئلې جان ادامز مایوسه کړی و. ګوښه ناستی حالت یې خپل کړی و او د ولسمشر مرستیالیتوب یې د نړۍ تر ټولو بې ارزښته دنده ګڼله. تر نږدې اتو کلونو پورې جان ادامز د جورج واشنګټن تر واک لاندې هېڅ هم نه شوای کولی. تر دې چې جورج واشنګټن تقاعد شو او ده ځان ولسمشرۍ ته نوماند کړ.

د ادامز حکومت پر فرانسه تمرکز وکړ. د فرانسې حاکم حکومت په هغه وخت کې د امریکایي هیئت له منلو ډډه وکړه او له دغه هېواد سره یې خپلې سوداګریزې اړیکې وځنډولې. جان ادامز درې استازي فرانسې ته ولېږل، خو د ۱۷۹۸ ز کال په پسرلي کې خبر راغی، چې د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر شارل تالیران او حاکمې ډلې د امریکا له هیئت سره لیدل نه دي منلي او په مقابل کې یې د درنې بډې غوښتنه کړې ده. ادامز د فرانسویانو دا سپکاوی د امریکا له کنګرې سره شریک کړ. کنګرې هم یو پرېکړه لیک خپور کړ، له هغه وروسته د امریکا په حکومت کې د فرانسې په ضد تحرکات رامنځته شول. دغه کار د امریکایانو له تاوده هرکلي سره مخ شو او همدغه پرېکړه لیک فدرالیستان په ټولو ځایونو کې مشهور او محبوب کړل.

کنګرې یوڅه پیسې د دېوال او بېړیو د جوړولو لپاره ځانګړې کړې. د امریکا حکومت ته یې امر وکړ چې پوځ دې پیاوړی کړي. دوی څو ساتونکې سترې بېړۍ جوړې کړې او هڅه یې وکړه، چې د هغو امریکا ضد عناصرو ډارول پیل کړي چې د امریکا له خاورې بهر ژوند کوي. دوی په همدې موخه یو قانون تصویب کړ، څو د یادو کسانو وېره نوره هم ډېره شي.

په دې توګه نو ادامز د هغو کسانو په کتار کې راځي چې د امریکایي پوځ د پیاوړتیا، ودې او قوي کېدو لپاره یې لومړني او اساسي ګامونه اوچت کړي دي. د امریکا په پوځي تاریخ کې دغه ولسمشر ځانګړی ځای لري.

ادامز د جګړې اعلان ونه کړ، خو دښمنۍ له سیندونو پیل شوې. د هغه د ولسمشرۍ په پیل کې د امریکا بېړۍ هومره قوي نه وې، خو تر ۱۸۰۰ ز کال پورې ډېر شیان بدل شول او په دې وخت کې نو د امریکا سترې او سوداګریزې بېړۍ په بحرونو کې بې جوړې وې. جان ادامز د امریکا په تاریخ کې هوښیار او د کار وړ ولسمشر تېر شوی دی، خو دا چې ولې هغه ونه شوای کړی بل ځل ټاکنې وګټي یو لامل لري. د خپل حکومت په وروستیو دوو کلونو کې جان ادامز ځینې قوانین اصلاح کول. ده غوښتل د حکومت مخالف کسان ونیسي. همداسې وشول، ډېر کسان یې ونیول او د حکومت مخالفین یې ځپل. د ده پلوي ګوند هم په دې برخه کې مرسته ورسره کوله. همدې مسئلې په امریکا کې د جان ادامز محبوبیت ته زیان ورساوه او داسې تورونه یې راپورته کړل، چې ګواکې ادامز غواړي امریکایي حکومت پر شاهي سلطنت بدل کړي او پر واک ګېډه واچوي. له همدې امله امریکایانو په بل پړاو کې جان ادامز ته رایه ور نه کړه او ناکام شو.

جان ادامز هغه کس و، چې د امریکا د ازادۍ او انقلاب په سر لارو کې شمېرل کېږي. ادامز د امریکایي سیاستوالو له لومړنیو کسانو و، چې هېڅ غلام یې نه درلود. ده به ویل، انسان تر انسان کم نه دی، خو د ذهن او ذکاوت توپیر د انسان په خپل لاس کې نه دی. ادامز به ویل چې ټول بشر سره برابر دی او امریکا باید دغه اصل ته درناوی وکړي. هغه د مرییانو یا غلامانو د ازادۍ سخت پلوی و او په دې اړه یې په ځلونو قوانین هم طرحه کړي او عملي کړي دي. خو دا چې د ادامز غږ هغه وخت د مرییتوب پر وړاندې د مبارزې لومړنی ګام و، دومره محسوس نه دی. هغه له دې سره هم مخالف و، چې خلک دې خپل غلامان د امریکا جګړو ته ولېږي، دا کار یې ظلم او د بشریت سپکاوی باله.

په مذهبي لحاظ په لومړي سر کې دومره جدي نه و، خو وروسته وروسته یې مذهب د انساني روزنې او معنویت لپاره مهم ګاڼه. د ده په خبره، مذهب او دین انسان له معنوي اړخه پیاوړی کوي او مذهبي کسان باید د انسان په روزنه کې خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي.

د ۱۸۰۰ ز کال د نومبر لومړۍ نېټه وه، چې ادامز واشنګټن ته دننه شو، له ټاکنو مخکې یې په سپینه ماڼۍ کې ژوند پیل کړ. د دویمې ورځې په مازدیګر یې د سپینې ماڼۍ په یوه نمجنه کوټه کې خپلې مېرمنې ته ولیکل: «مخکې له دې چې لیک پای ته ورسوم، دعا کوم چې په دغه کور او په دې کې راتلونکي اوسېدونکي برکتي خلک وي. له خدایه غواړم چې یوازې رښتیني او هوښیار خلک په دې ماڼۍ کې ژوند وکړي. هوښیار او پوه خلک پر امریکا حکومت وکړي.»

له ولسمشرۍ وروسته جان ادامز په ماساچوست کې خپلې کروندې ته را وګرځېد، همدلته یې د تقاعد شپې تېرولې او همدلته یې توماس جفرسون ته یو پرانیستی لیک ولیک. نوموړی د ۱۸۲٦ ز کال د جولای په څلورمه ومړ.

همیانۍ

# د دغو عبارتونو له کارولو ځان وساتئ

ژباړه: امان الله«حنيفي»

دروغ وايي؟ ډېر وخت دروغ وايي؟ په سختو حالاتو کې له دروغ ويلو د يوې دفاعي وسيلې په توگه گټه اخلی؟ لطفاً له دروغ ويلو چې ستاسې پر شخصيت او باور بد اغېز کوي، ځان وساتئ. که له نورو سره په ناسته پاسته کې رښتيني او صادق ونه اوسی، ممکن هغوی مو بيا په رښتيا خبرو هم باور ونه کړي.

موږ په همدې مقاله کې درته هغه عبارتونه ښيو، چې هېڅکله يې د نورو په مقابل کې ونه کاروی. ناسم پوهاوی او له خبرو بېله مانا اخيستل، تر ډېره د مخاطب په مقابل کې ستاسې په ژبه له راوړو کلمو او عبارتونو سره تړلي دي. نو ښه ده چې له دغو عبارتونو هېڅ وخت استفاده ونه کړی:

**۱- رښتيا وايم...**

د رښتيا ويونکو او دروغجنو کسانو خبرو کې جالب ټکي وي. دروغجن ډېره هڅه کوي چې خپله خبره رښتيا او داسې وښيي چې دی پکې هېڅ کمی زياتی نه کوي. د همدې لپاره په خبرو کې له ځينو داسې کلمو او عبارتونو څخه استفاده کوي. د بېلگې په ډول، وايي: «رښتيا درته وايم...» د همداسې ځينو عبارتونو په کارولو سره کوښښ کوي، چې پر مخاطب خپله دروغ خبره ومني.

کله چې تاسې د نورو په مقابل کې ډېر د رښتيا ښودلو الفاظ کاروی، هغوی پر تاسې بد گومانه کېږي.

**۲- باور وکړه...**

دروغجن کسان پر خپلو خبرو ډېر تاکيد کوي او تل مخاطب ته وايي: «باور وکړه، رښتيا درته وايم». داسې او دېته ورته عبارتونه چنداني ښې پايلې نه لري. که ستاسې په مقابل کې نور له داسې او دېته ورته الفاظو نه استفاده کوي، پوه شی چې دوی درته رښتيا نه وايي.

**۳- تر هغه ځايه چې زه پوهېږم...**

ډېری وخت پورته عبارتونه ځکه کارول کېږي، څو ويونکی داسې وښيي چې دی/دا رښتينی دی، خو له داسې عبارتونو استفاده د دې سبب کېږي، چې اورېدونکی داسې احساس وکړي، چې ويونکی غواړي د خپلې تېروتنې ځای خالي پرېږدي.

نو د دې لپاره چې داسې تېروتنې ونه کړی، ښه ده چې پرته د دغو عبارتونو له کارولو خبرې وکړی. تر ټولو ښه خبره دا ده چې په صريح او واضح ډول ووايی، تاسې څه غواړی، څه کوی او پر څه پوهېږی.

**۴- زه داسې فکر کوم...**

کله چې له دغه عبارت نه استفاده کوی، نور داسې فکر کوي چې تاسې دروغ وايی. د انسان ذهن عجيب او غريب دی، خو پر دې هرڅه سربېره بيا هم تاسې کوښښ وکړی، چې د هر څه په اړه رښتيا ووايئ.

له دغه عبارت نه (تر کومه چې زه فکر کوم) لرې اوسئ او هېڅ يې مه استفاده کوی، تل هغه څه ووايئ چې ستاسې په ذهن کې شفاف او رښتيني دي. که پر ډېرو شيانو يا خبرو باور نه لری، له دې مه وېرېږی او ووايئ چې تاسې د دغه کار په اړه دقيق معلومات نه لری. دا تر هغې چې د ځان د ناسم پوهاوي لپاره توجيه او دليل لټوی، په څو واړې ستاسې د شخصيت ساتلو لپاره ښه ده.

**۵- اصلي موضوع دا ده چې...**

ډېر کسان مستقيماً نه غواړي چې دروغ وايي. په همدې اساس ډېر وخت خپلې خبرې بل اړخ ته منسوبوي او د دغه منسوب والي لپاره دا پورته عبارت کاروي. کله چې غواړی د بحث موضوع بدله کړی، تاسې د ټولو حاضرو کسانو په ذهن کې دروغجن معرفي کېږی.

ډېر دروغجن کسان به مو ليدلي وي، چې پر نورو د خپلې خبرې منلو لپاره، خپلې خبرې ته ډېر توضيحات ورکوي. که غواړی چې د بحث موضوع بدله کړی، لومړی پيل شوې موضوع پای ته ورسوی او بيا ورسته نوې موضوع ته لاړ شئ.

**٦- رښتيا دا چې...**

ډېر وخت ځينې کسان د هغه څه په اړه چې ويل يې يوڅه سخت وي، خبرې کوي او بيا له دغه عبارت نه (رښتيا دا ده چې...) استفاده کوي. خو تاسې دا تېروتنه تکرار نه کړئ. دا عبارت هېڅ مه وايئ او په ياد لرئ چې دا لکه، (رښتيا وايم...) عبارت په څېر پر مقابل کس منفي اغېز کوي او تاسې د هغه په وړاندې يو فريبکار کس معرفي کوي.

**۷- په وار وار د نورو پوښتنې مه تکراروئ**

کله چې له تاسې څخه د يو څه په اړه پوښتل کېږي او تاسې هغه پوښتنه بيا بيا تکراروی، د خپل ځان لپاره داسې اور بلوی چې ستاسې پر وجود د دروغو داغونه اېږدي.

خو که مو د مقابل لوري خبره سمه نه وي اورېدلې، يا يې په خبره سم نه وی پوه، بيا کومه خبره نه ده، خو کوښښ وکړی چې مقابل لوري ته د هغه د خبرو کولو په وخت پوره احترام او توجه وکړی. هغه وخت چې يا مو د مقابل لوري خبره سمه نه وي اورېدلې يا پر موضوع سم نه وی پوه، رښتيا ووايئ چې تاسې موضوع سمه نه ده اخيستې. که تاسې په موضوع سم نه وی پوه او بيا پوښتنه هم ونه کړی، حتمي دروغ وايی، چې دروغ مو وويل، پر ځان مو تور داغ کېښود.

خو که په موضوع پوه وی او تاسې په بيا بيا پوښتنه کوی، دا بيا تر ټولو بده خبره او دا مانا ورکوي چې يا تاسې د مقابل لوري په خبره مسخرې کوی او يا د دې پوښتنې په مقابل کې د دروغ ويلو هڅه کوی.

**۸- (زما) له ضمير څخه ځان ساتل**

دروغ ويونکي له شخصي ضمير څخه استفاده نه کوي، ځکه هسې نه بيا په خپله خبره کې بند پاتې شي. د بېلگې په ډول، ستاسې د کور ماشوم د گلدان گلونه مات کړي، که غواړي چې دروغ ووايي، هڅه کوي چې ستاسې خواته درشي او وايي: «گلونه چا مات کړي دي). هغه د خپل دغه کار د کړلو لپاره هېڅ دليل نه لري.

کېدای شي دا بېلگه په ډېرو نورو مواردو کې هم صدق وکړي. يا به مو ډېر داسې کسان ليدلي هم وي، چې د خپلې تېروتنې لپاره يې دېته (ما دا .... نه دی کړی) ورته بهانې موندلې وي.

دروغ ويونکی ډېری وخت د درېيم کس له ضمير څخه استفاده کوي، ځکه د ځان په اړه له ډېرو توضيحاتو وېرېږي.

**۹- منې يې؟**

دروغجن تل له مقابل لوري دا پوښتنه کوي، (منې يې؟) که يوڅوک رښتيا وايي، هغه بيا د خپلې خبرې د اثبات په دلايلو پسې نه گرځي، ځکه هغه مخکې له مخکې پر دې باور وي چې خبره يې رښتيا ده او منل کېږي.

## مدني ټولنې: د لويې مشورتي جرگې د کمېسيون اوسنی جوړښت د منلو نه دی

ځينو مدني ټولنو د سولې لپاره د مشورتي لويې جرگې کمېسيون د غړو د غوراوي په اړه اندېښنه ښودلې ده.

سره له دې چې د سولې عالي شورا د سولې د مشورتي لويې جرگې د کمېسيون په ترکيب کې د غير حکومتي کسانو د حضور له امله ډاډ ورکړی، خو ځينې مدني ټولنې پر دې موضوع انتقاد کوي او وايي چې د دې جرگې د کمېسيون په جوړښت کې حکومتي چارواکي دي، نو ځکه دوی ته د منلو وړ نه دي.

د دغو ټولنو غړو تېره ورځ په يوه خبري ناسته کې ويلي، چې د دغه کمېسيون په جوړښت کې بايد د مدني ټولنو پېژندل شوي او تجربه لرونکي کسان شامل وای.

د مدني ټولنو يوه غړي جواد ميريان يادې ناستې ته ويلي: «زموږ څېړنې دا ښيي چې دې کمېسيون د يوه حکومتي کمېسيون



شکل اخيستی. د ښاغلي داوودزي خپلوان په دغه کمېسيون کې د جوړوونکو په توگه د سولې په مشورتي لويه جرگه کې غوره شوي دي.»

دوی دا هم ويلي، که حکومت په تېره بيا د سولې عالي شورا يې قانوني غوښتنو ته ځواب ونه وايي، دوی به په اعتراضونو لاس پورې کړي.

دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي چې د سولې د مشورتي لويې جرگې نېټه، د روان کال د کب مياشتې ۲٦مه ټاکل شوې وه، خو اوس دا نېټه ځنډېدلې ده.

افغان حکومت ويلي، د سولې مشورتي لويې جرگې د کمېسيون او د دارالانشاء له تشکيل وروسته به د دې جرگې د ترسره کولو وروستی نېټه اعلان کړي.

د سولې عالي شورا له دې وړاندې ويلي وو، چې د سولې په لويه مشورتي جرگه کې به د دوو زرو په شاوخوا کې د بېلابېلو قشرونو استازي برخه ولري چې ۳۰سلنه به يې ښځې وي.

په همدې حال کې د سولې عالي شورا د اجرايه شورا غړي، قاضي محمدامين وقاد له ازادي راډيو سره په خبرو کې د مدني ټولنو اندېښنې بې اساسه بللې او ويلي يې دي چې له مدني ټولنو سره د دغه کمېسيون د جوړولو په اړه په همغږۍ کار روان و، خو اوس لويه مشورتي جرگه وځنډېده.

نوموړي دغه راز ويلي: «اوسمهال خو لويه جرگه ځنډېدلې ده او دغه اعتراض په بشپړ ډول بې ځايه دی، د سولې د عالي شورا له لوري بار بار اعلان شوی چې د جرگې د مديريت د کمېسيون په ترکيب کې به نيمه انتخاباتي کسان وي او هغه کسان به پکې ټاکل کېږي چې د حکومت کارکوونکي ونه اوسي او د کمېسيون د جوړولو په کارونو کې پرمختگونه هم شوي وو».

## راپور: تېره مياشت د وړمې هغې په پرتله مرگ ژوبله ٤۳ سلنه کمه وه

په افغانستان کې تېره مياشت څه باندې زرو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده، خو دغه شمېره د وړمې مياشتې په پرتله ٤۳ سلنه کمه شوې او شنونکي يې د کمښت لامل د سولې خبرې او سړه هوا بولي.

د پژواک راپورونه ښيي چې له تېرو دوو کلونو راهيسې لومړی ځل دی چې په يوه مياشت کې ځانمرگی بريد نه دی شوی او د لومړي ځل لپاره د مرگ ژوبلې کچه دومره را ټيټه شوې ده. په دې وروستيو کې د حکومت تر څنگ چې له طالبانو سره د سولې د خبرو هڅې کوي، د طالبانو او امريکا استازو پنځه ځلې مخامخ خبرې کړې او وروستی پړاو يې لا هم په قطر کې روان دی.



په وړمه (د ۲۰۱۹ په جنوري) مياشت کې په ۱۳۱ بېلابېلو بريدونو کې نږدې زر کسان وژل شوي او تر ۸۰۰ ډېر ټپيان وو، خو د پژواک موندنې ښيي چې په تېره فبرورۍ مياشت کې په ۱۰۵ بريدونو کې ۳۹۲ تنه وژل شوي او ٦۵۳ نور ټپيان دي.

دغو شمېرو ته په پام، د وړمې ميلادي مياشتې په پرتله په تېره (فبروري) مياشت کې مرگ ژوبله ٤۳ سلنه کمه شوې او د بريدونو په شمېر کې شل سلنه کموالی راغلی دی. دغه راپور ښيي چې د روان ميلادي کال په تېره مياشت کې د هېواد له ۳٤ ولايتونو څخه په ۲۷ کې بريدونه شوي او مرگ ژوبله اوښتې ده.

ترلاسه شوي معلومات ښيي چې تېره مياشت له هرو ۱۱ کسانو، اتو ته په مخامخ نښتو او يوه، يوه ته په هوايي بريدونو، هدفي وژنو او چاودنو کې مرگ ژوبله اوښتې ده.

په ننگرهار کې ۱۲، هلمند کې ۱۱، کندهار کې لس، غزني او سرپل کې نهه، نهه او پاتې ٥٤ نور په ۲۲ نورو ولايتونو کې ترسره شوي دي.

په فبرورۍ کې له باميانو، پنجشېر، نورستان، پکتيکا، پکتيا، زابل او کونړ ولايتونو څخه د بريدونو راپور نه دی ترلاسه شوی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦۰ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٥۳۳ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۷,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبۍ | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوتوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د مارچ پنځمه | دویم کال | ۳٤٥مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۵ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۰ | ۱۷ |
| -٦ | ٥ | ٥ | ٦ | ٦ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥٦ | لمر ختل ۰٦:۱۹ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیګر ۰۳:۲۳ | ماښام ۰٥:٥۲ | ماخوستن ۰۷:۱٦

## نړۍ



## نتانیاهو: له سوریې د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره له روسیې سره ګډ ټیم جوړوو

۳

## امریکا او جنوبي کوریا ګډ پوځي تمرینونه پیلوي



د امریکا او جنوبي کوریا ځواکونو د پراخو پوځي تمرینونو پر ځای، چې دواړه هېوادونه یې په پسرلي کې ترسره کوي، له شمالي کوریا سره د ډیپلوماټیکو هڅو د ملاتړ لپاره کوچني ګډ پوځي تمرینونه پیل کړي دي.

د دواړو هېوادونو پوځیانو په یوه ګډ بیان کې ویلي، چې د دانګ مېنګ په نوم دغه پوځي تمرینونه به د مارچ تر ۲۱مې دوام کوي.

دا په داسې حال کې ده چې پنټاګون د تېرې شنبې په ورځ ویلي وو، چې د امریکا او جنوبي کوریا پوځي مشرانو پرېکړه کړې، څو د« Key Resolve» او«Foal Eagle» پوځي تمرینونه بند، په سیمه کې کړکېچ کم او له اټومي وسلو څخه د پاکې ټاپو وزمې لرونکې کوریا هدف ترلاسه شي.

دغه پرېکړه وروسته له هغې شوې چې ظاهراً په ویتنام کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او شمالي کوریا د مشر کیم جونګ اون ترمنځ دویمه غونډه ناکامه بلل شوې ده.

د یادونې ده چې دغه دواړه هېوادونه په داسې حال کې ګډ پوځي تمرینونه پیلوي، چې په دې وروستیو کې د امریکا او شمالي کوریا ترمنځ اړیکې د پخوا په پرتله ښې شوې دي او په دې لړ کې د دواړو هېوادونو مشرانو هم دوه ځلې ناستې کړې دي.

## راپورونه: په امریکا کې د سختو توپانونو له کبله ۲۳ کسان مړه شوي او لسګونه نور ټپیان دي



د امریکا په جنوبي ایالت الاباما کې د سخت توپان او بوربوکۍ له امله د ماشومانو په ګډون، لږترلږه ۲۳ کسان مړه شوي دي.

د چارواکو په خبره، دغه توپان او بوربوکۍ ونې ماتې کړې، سړکونه او ودانۍ یې ډېرې زیانمنې کړې دي.


دلي کاونټي د سیمې د پولیسو مشر، جې جونز رسنیو ته ویلي چې تر اوسه د مړو شمېر ۲۳ تنو ته رسېدلی او ځینې کسان په روغتونونو کې بستر دي، چې د ځینو روغتیایي حالت یې د اندېښنې وړ دی.

د چارواکو په خبره، په الاباما کې د څه باندې شپږو زرو کورونو برېښنا هم پرې شوې او د دغه ایالت په ګاونډ جورجیا کې هم ١٦ زره کورونه له برېښنا بې برخې شوي دي.

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په یوه ټوېټر کې د الاباما او نورو توپان ځپلو سیمو له اوسېدونکو غوښتي، چې ځانونه خوندي ځایونو ته ورسوي او له احتیاطه کار واخلي.

دا لومړی ځل نه دی چې په امریکا کې سخت توپانونه خلکو ته مرګ ژوبله اړوي، بلکې تر دې وړاندې هم سختو توپانونو چې د سمندر د اوبو څپې یې هم راپورته کړې وې، د دغه هېواد خلکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه اړولي دي.

## نهادهای ناظر انتخابات: در انتخاب اعضای کمیسیون های انتخاباتی برخورد سلیقه یی شده است



نهادهای ناظر انتخابات می‌گویند، در انتخاب اعضای کمیسیون های انتخاباتی که چهار تن آنها نامزد ولسی جرگه و یک تن فارغ التحصیل زراعت می باشند، تخصص و استقلالیت کمتر در نظر گرفته شده است.

این در حالی است که رئیس جمهور در ۲۳ دلو سال روان، بعد از تعدیل قانون انتخابات، تمامی اعضای کمیسیون های انتخاباتی را از وظایف شان برطرف کرد و سپس به اساس قانون جدید، ٦٦ تن از سوی احزاب سیاسی و ۱٥ تن از سوی نهادهای مدنی، برای عضویت کمیسیون های انتخاباتی و ریاست دارالانشای این کمیسیون معرفی شدند که در کُل ١٦ زن شامل این ۸۱ تن بودند.


کمیتهٔ برگزاری انتخابات اعلام کرد که مولانا محمد عبدالله و سید عصمت الله مل نُه، نُه رای؛ حبیب الرحمن ننگ، محمد قاسم الیاسی، اورنگزیب، مسافر قوقندی، حوا علم نورستانی، محمدیونس طغرا، چمن شاه اعتمادی هشت، هشت رای؛ محمد ذاکر ذکی، محمدحنیف دانشیار، زهره بیان شینواری، سید قطب‌الدین رویدار و گیتی هفت، هفت رای دارند و این بلندترین آراء می‌باشد.

اما در نامهٔ ریاست امور حقوقی دفتر ریاست جمهوری که عنوانی نامزدان انتخابات ریاست جمهوری نوشته و دو روز پیش منتشر شده، آمده است که در نتیجهٔ دقت مجدد اسناد نامزدان دارای آرای بلند، در اسناد تعدادی از این نامزدان مشکلاتی به ملاحظه رسید که لازم دیده شد تا در عوض ذاکر ذکی و گیتی؛ رحیمه ظریفی که پنج رای داشت و مولوی دین محمد عظیمی با هفت رای، شامل فهرست چهارده تن شوند.

به اساس فرمان رئیس جمهور؛ از این میان، الیاسی، زهره بیان، عظیمی، طغرا و رویدار به حیث اعضای کمیسیون شکایات انتخاباتی و عصمت الله مل، عبدالله، اورنگزیب، دانشیار، قوقندی، حوا علم، رحیمه ظریفی به حیث اعضای کمیسیون مستقل انتخابات برگزیده شده اند. به اساس فرمان رئیس جمهور؛ چمن شاه اعتمادی به حیث رئیس دارالانشای کمیسیون شکایات انتخاباتی و حبیب الرحمن ننګ به حیث رئیس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات تعیین شده اند.

## ژوند

## ولې انسان د زړه پر ناروغۍ اخته کېږي؟



په امریکا کې د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وایي، د زړه ناروغي د ښځو د مړینې اصلي لامل ده. دغه مرکز وایي، په هرو څلورو مړو شویو ښځو کې د یوې د مړینې لامل د زړه ناروغي ده. دغه محاسبه د نارینه‌وو لپاره هم صدق کوي او د نارینه‌وو په مړینه کې هم د زړه ناروغي له پامه نه شي غورځول کېدای. د امریکا د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وایي، په ټوله نړۍ کې یوازې ٥٤ سلنه ښځې دې پېښې ته متوجه شوې دي. ایا تر اوسه مو په دې اړه فکر کړی چې د زړه ناروغي څه ډول ناروغي ده؟ د زړه ناروغي ټولو هغو ناروغیو ته ویل کېږي چې په زړه پورې اړوندې وي، نه یوازې د زړه په سکتې پورې. د نیویارک په هیل لنوکس روغتون کې د ښځو د زړه د سلامتیا د موسسې رییس او د نړیوالې تغذیې د ټولنې بنسټ ایښودونکی، ډاکټر سوزان شتاینباوم وایي، د زړه ناروغي په ټوله کې د رګونو د تنګوالي له کبله منځ ته راځي، خو دا چې زړه له څلورو برخو جوړ شوی، نو ناروغي یې هم په بېل بېل ډول د هرې برخې اړوندې کېدای شي.

## ډېر ژوند کوي، خو هغسې نه، څنګه چې لازم دی!




ښایي ډېرو ژوند کړی وي، عمر به یې تېر شوی وي، د ژوند خوږې او ترخې به یې لیدلې وي؛ خو ښایي د عمر تر پایه یې د خپل وجود وړتیاوې نه وي پېژندلې. دوی یوازې خوړلي، څښلي او ځان یې تقدیر ته سپارلی دی. خو هغو چې ځان پېژندلی، په نړۍ کې یې ستر بدلونونه راوستلي دي، هغوی پر دې پوه شوي چې نړۍ د انسان لپاره پیدا شوې ده، انسان د مرګ لپاره نه دی پیدا، مرګ د انسان لپاره پیدا دی، انسان د ژوند لپاره پیدا دی څو په نړۍ کې د انسانیت او انساني ژوند ستر سمبول شي، انسان ته ښایي چې د ځمکې پر سر خپل رسالت تر سره کړي، هغه رسالت د ښه، با وقار او دیندراه ژوند تېرول دي. اروپوهنې په دې وروستیو کې ډېر پرمختګ کړی دی، له خپل پرمختګ سره یې جوخت هغو ټولنو ته هم د پرمختګ واګې په لاس ورکړې، چې اروپوهنه مطالعه کوي او اروپوهنې ته د ارزښت په سترګه ګوري، خو په هر حال، اروپوهنه هغه علم دی چې د انسان نه لیدونکې قدرتونه یې ولیدل، انسان ته یې پر ځان باور، پاکي، مینه، محبت، کورنۍ ژوند، د اولاد روزل او ډېر نور داسې مهارتونه ور وښودل، چې تر ننه انسان هغه نه وو عملي کړي.